# Dr. Pervez Mehjoor Literary Works: A short Introduction

# د ډاکټر پروېز مهجور ادبي زيار: مختصر پېژندګلو

**Muhammad Riaz***

## Abstract

In the history of Pashto Language and Literature, Nowshera has a prominent place. In different era, this region has produced towering and the most important personalities with regard to literature and knowledge. Professor Doctor Pervez Mahjoor is one of them having a unique personality. He is among those writers who has provided Pashto Literature with extra ordinary creative and inquisitive research and filled the Pashto Literature with precious art work. On one hand he was a poet, historian, compiler, benign critic and the best researcher, on the other hand he is a lighthouse of character and debate.

In the field of creativity and criticism in Pashto Literature after the elegant personality Doost Muhammad khan kamil ranks the second. He is known for his great contribution in the field of spirituality, and a great philosopher of his time. His compilation about Rokhani Literature the quality and quantity of his selection are marvelous and matchless. In his defining work "mystical literature "He has his own distinct and unique style. And he himself was also a great worshiper of mystical literature.

- **Key words:** Life, Compilations, Research, Critics, Translator, Literary contributions.

د پښتو ژبې او ادب په تاريخ کښې د نوښار خاورې ته لوړ مقام حاصل دے۔ دې خاورې په مختلفو دورونو کښې د علم او ادب په حواله ډېر نامتو او اهم شخصيتونه زېږولي دي او په هغو کښې يو منفرد شخصيت پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور هم دے۔ د دوي شمېر د ګوتو د شمېر په څو هغه قلمکارو کښې کېږي چا چې د اعلي درجې تخليقي، تحقيقي، علمي او ادبي زيار په حواله د پښتو ادب لمنه په قيمتي ملغلرو ښائسته کړې ده، هغه که يو اړخ ته ښۀ شاعر، مورخ، بې بدله مدون، بې ضرره نقاد او بهترين محقق وو نو بل اړخ ته د کردار او ګفتار د سپېځلتيا روښانه انځور هم وۀ۔

پښتو ادب کښې د تحقيق او تنقيد په مېدان کښې د دوست محمد خان کامل مومند نه پس غير جانبدار شخصيت لرونکے دويم عالم وۀ۔ بيا په خصوصيت سره د روښاني ادب ستر او د مستند عالم په

* Ph.D Research Scholar, Pakhtunkhwa Study Center Bacha Khan University, Charsadda

حيث پېژندلے شي. د روښاني ادب او کلاسيکي ادب د تدوين په اړه د هغوي کار د معيار او مقدار په حواله غورې نمونې دي. د تصوفي ادب په ضمن کښې د هغوي د علميت ځانګړې انداز وۀ او پخپله هم د تصوف د لارې لاروے وۀ.

دا عظيم عالم، فاضل او مدبر شخصيت د نوښار ضلعې په خويشکي بالا مېره کښې په څوارلسمه جنورۍ ۱۹۵۲ء کښې پېدا شوے دے. دوي ابتدائي تعليم تر لسمه په خپل کلي کښې حاصل کړے دے او دولسم او بيا څوارلسم ئې د ګورنمنټ ډګري کالج نوښار نه وکړۀ. ايم اے پښتو، اردو او پي ايچ ډي سندونه ئې د پېښور يونيورسټۍ نه تر لاسه کړي وو.

د ملازمت ابتدا ئې د تعليم د محکمې نه شوې ده او تر اخره دغې پاکې محکمې سره تړلے پاتے شوې دے. په **۱۹۷۳**ء کښې د "ايس وي" په عهده ئې کار شروع کړو بيا OT شو. په **۱۹۸۸**ء کښې پېښور پوهنتون کښې د جونئير ريسرچ افسر په حيث وټاکلے شو او هم د دغې پوهنتون نه په ديارلسمه جنورۍ ۲۰۱۲ء کښې د پروفېسر په حيث د ملازمت پوره کېدو سره د خپلو ذمه وارو نه فارغ شو.

د يو شخصيت نوم اختسو سره د هغۀ ټولې کارنامې مخې ته راځي او دا د هغه انسان تعارف وي د علم او هنر نه پېژندلې شوې شخصيت د لوړ مقام او حيثيت مالک وي او په دې لړ کښې که مونږ د ډاکټر پرويز مهجور د ادبي زيار جاج واخلو نو د هغوي دغه خدمات په پښتو ادب يو اعلیٰ درجه لري. د دوي ادبي زيار کښې چې د نوي نسل دپاره لوړې جذبې او د احساس کومې رنګينۍ موجود دي هغه د دې وخت او راتلونکي وخت دپاره تحقيقي لاره هواره وي. د دوي ادبې هڅې په نوي تحقيق کښې يو جمالياتي کيفيت پېدا کوي او د دوي د دې مسلسل محنت، ارادې، حوصلې او مستقل مزاجۍ په وجه پښتو ژبې ته نوې ژوند ملاؤ شو او په حيث د يو ښۀ دانشور ئې په پښتو ژبه خپل ژور اثرات پرېښې دي.

مونږ که د هغوي علمي زيار ته نظر اوکړو نو د روښان شناسۍ، رحمان شناسۍ، کلاسيک شناسۍ او په جديد ادب د عبور سره سره د هغوي د تدوين کار د پښتو ادب په لمنه کښې بېش بها اضافه ده او د دوي دغه زيار د پښتو ژبې او ادب په تاريخ کښې د خپل مستند شناخت د ژبې د پر مختګ وسعت په حواله ډېر اهميت لري. د تدوين او بيا په خصوصيت سره د لرغوني ادب تدوين ډېر مشکل او کړاو نه ډک کار دے. د هر چا د وس خبره نۀ ده خو مهجور صيب دغه زيار په ډېر محنت او معتبر انداز سر ته رسولے دے او په دې مېدان کښې ئې د همسرۍ دعوه ډېر کم خلق کولے شي. خو دوي دغه ګران کار ته چې

په کوم انداز رسائي کړې ده د دې مثال کم په نظر راځي. د تدوین متن د باریک بینۍ په حقله خرم یاسین محمد لیکي.

"متن کی تدوین یا متن سے متعلق یہ کام نا صرف باریک بینی کا متقاضی ہے بلکہ بڑا احساس اور بڑی ذمہ داری کا ہے۔ معمولی سی کوتاہی اور غفلت درستی کے ضمن میں سالہا سال ہڑپ جاتی ہے"۔[1]

ترجمه :- د متن تدوین یا د متن متعلق هر کار ته نه صرف د ژور نظر ضرورت دے، بلکې ډېر حساس او لویه ذمه داري ده. لږ کمې او غفلت صحیح کولو کښې کلونه ضائع شي.

د ډاکټر پرویز مهجور د ژوند زیاته برخه په متني تحقیق کښې خرچ شوے ده. هغوي هغه قلمي نسخې چې په هغې د کتابت نېټه لیکلې شوې وۀ او د هر قسمه شک و شبې نه پاک وۀ نو د تحقیق او تدوین دپاره ئې غوره ګڼلو. هغوي بغېر نېټې او د شک مندو مخطوطو په باره کښې څۀ رائے تر هغه وخته پورې نۀ قائمولې تر څو چې به په مختلفو دورونو کښې د املا او د خط کومه طریقه موجود وه او د هغې نه به ئې ټول په ټوله واقفیت نۀ لرلو. تحقیق او تدوین کښې د دې واقفیت په حقله شهاب عزیز ارمان لیکلي دي.

"د تذکرو او تدوین په ضمن کښې ذکر شوو کتابونو کښې تحقیق او تنقیدي رنګونه په نظر راځي او مونږ ئې په تنقید او تحقیق کښې هم شاملولے شو". [2]

د ډاکټر پرویز مهجور په شخصیت کښې د تدوین نګارۍ تحقیقي او تنقیدي شعور موجود وۀ څکه چې د دې نه بغیر مدون د تحقیق حق نۀ شي ادا کولے او په تدوین متن کښې د فن پارې دپاره ټولو جزیاتو باندې نظر ساتل ضروري وي. یو مدون دپاره کله کله د یو لفظ په تلاش کښې میاشتې او کلونه هم ولګي. خو په هر حال کښې د متن د څېړنې او سمونې په لاره کښې د اسلوب او د نورو ضرورتونو خیال ساتل زیات ضروري وي او هم دغه به د متني اعتبار او سند قابل وي.

د دې نه علاوه مدون دپاره د فارسۍ او عربۍ علم هم ضروري دے څکه چې په اکثرو تذکرو او مخطوطو کښې د عربۍ او فارسۍ ژبې توري په ډېر تعداد کښې استعمال شوي وي. د تدوین متن په لاره کښې ډېر ازغي وي او دا لاره ډېره کمو خلقو خوښه کړې ده. کوم خلق چې په دې لاره روان شوي دي نو هغوي په دې مسلسل سفر کړے دے او په هغې کښې ډاکټر پروېز مهجور هم شامل دے. دوي چې د پښتو ادب دپاره کوم خدمات تر سره کړي دي هغه کتابونه لاندې مختصر ذکر کېږي.

- **د ارزاني کليات:**

د ارزاني خويشکي کليات د پښتو ادب په تاريخ کښې ډېر اهميت لري ځکه چې دا کليات د تاريخي سند له مخه ارزاني اولنې صاحب ديوان شاعر ثابتوي. د ارزاني نه وړاندې هم د پير روښان د شاعرۍ کتابونه "روښاني رساله" يا "د علم رساله موجود وو او په دې کښې بايزيد انصاري د شاعرۍ په ژبه کښې خپل افکار وړاندې کړي دي او په دې حواله اولنې صاحب کتاب شاعر دے. د هغهٔ شاعري کهٔ هر څو د درېمې درجې ده خو بيا ئې هم مونږ د شاعرانو د قطار نه وېستلے نهٔ شو. د دوي د شاعرۍ په حقله فقير محمد فقير ليکي.

> "بايزيد انصاري د ارزاني خويشکي نه تقريباً شل پنځويشت کاله وړاندې مړ دے او هغه "فرحت المجتبٰي" او "د علم رساله" د مرګ نه ډېر وړاندې بلکې د خيرالبيان نه هم وړاندې ليکلي دي نو داسې حال کښې جوته خبره ده چې بايزيد انصاري د پښتو ژبې اولنې کتاب لرونکے شاعر دے".[3]

ډاکټر پروېز مهجور د ارزاني خويشکي د زېږېدنې نېټه ۹۲۹ھ قياس کوي او د مرګ نېټه ئې ۱۰۱۰ھ خواؤشاه پوهانو بيان کړې ده. د هغوي مزار کښې د کتبې له مخه د هغوي د مرګ کال ۱۰۲۸ھ دے که دغه سم وي بيا خو د بايزيد د مرګه څلوېښت کاله پس هم ژوندے وو.

ارزاني خويشکي د خپل دور بهترين شاعر دے د فکر او فن له رويه ئې ښهٔ شاعري کړې ده او دا د هغوي د تصوفي، علمي او ادبي مقام څرګندونه ده. ډاکټر پروېز يو مستند روښان شناس شخصيت دے او د تدوين د مېدان منلے شوے عالم هم دے. هغوي چې د ارزاني خويشکي د کلياتو د تدوين، په هغې د څېړنې او تنقيد کوم حق ادا کړے دے بل ثاني نهٔ لري. د ارزاني په اړه چې کوم معلومات سم نهٔ وو هغه ئې په عملي انداز کښې رد کړي دي او د مضبوطو شهادتونو په بنياد ئې د هغې څرګندونه او سمونه کړې ده. هغه که د ارزاني د نوم خبره ده او که نورې څېړنې دي لکه چې د ارزاني قبيله ځينې پوهانو عزيز ګڼلې ده[4] او وائي چې دې عزيز زے دے. بهادر شاه ظفر کاکاخېل ئې هم عزيز خېل ګڼي.

> نامتو افغان څېړنکار زلمے هېواد مل ئې د عزيز زيو د څانګې نه حسابوي.[5]

د ارزاني د قبيلې په باره کښې د دغه غلطۍ سمون هغوي د پېښور ارکايوز د قلمي نسخې او د پښتو اکيډيمۍ د قلمي نسخې په شهادت اوکړو او دا ئې روښانه کړه چې هغه عزيز زے نهٔ دے زبر زے

دے او په قلمي نسخه کښې د غلط اخذ د نقل په وجه دا غلط فهمي خوره شوې ده.[6] مختصر دا چې دوي د پیر روښان په خلیفه ګانو کښې یو خلیفه وۀ چې عام اولس ته ئې د توحید او معرفت علم ښودنې دپاره هند ته لېږلے شوې وۀ.

- د مرزا خان انصاري دیوان:

پښتو ادب کښې د مرزا خان انصاري لوې مقام دے او د هغوي شاعري د کلاسیکي درجې ده. د هغوي په شاعرۍ کښې د علمي، فکري او فني لوازماتو خیال ساتلے شوې دے او خوشحال خان خټک غوندې شاعر ئې صفت کړے دے. د ډاکټر پروېز مهجور ترتیب او تدوین شوي د مېرزا خان انصاري دیوان په سریزه کښې ډاکټر راج ولي شاه خټک د خوشحال خان خټک یو شعر لیکي.

له چا نه په پښتو ما میزان لیدلے نۀ دے
مېرزا په دا زبان کښې وئیل کړي دي تللي [7]

ډاکټر پروېز مهجور "د مېرزا خان انصاري دیوان" د پښتو اکیډیمۍ له خوا په ۲۰۰۴ء کښې تدوین کړې دے چې سریزه پرې ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکلې ده. په دې دیوان کښې هغوي د مدون په حیث د ډېر احتیاط نه کار اخستې دے او د هغوي د شاعرۍ ئې ډېر په غوره انداز تدوین کړے دے. د هغوي د نوم، ژوند، کلي، قبیلې او حالاتو باره کښې ئې د نورو څېړنکو د غلطیو سمون کړے دے او په مستند څېړنیز انداز ئې خپل تحقیق وړاندې کړے دے. لکه د مثال په توګه د مېرزا خان انصاري د پېدائش تاریخ محمد اکبر خان د ۹۷۰ھ او ۹۷۵ھ تر مېنځه یادوي.[8]

د همېش خلیل او ډاکټر یار محمد مغموم خپله رائې نشته او د محمد اکبر ذکر شوي کلونه ئې هم رد کړي دي خو ډاکټر پروېز مهجور ئې د مضبوط شهادت په قیاس ۸۹-۹۸۸ھ حسابوي. د افغانستان څېړنمل دوست چې د مېرزا خان انصاري د دیوان کومه څېړنه او سمونه کړے ده نو دوي په هغې کښې د مېرزا خان انصاري د پېدائش نېټه داسې ښائي.

"مېرزا خان انصاري د نورالدین زوي د بي بي شمسو له لارې د بایزید روښان نمسې دے . د زېږېدو نېټه ئې نۀ ده معلومه خو په ۱۰۴۰ھ،ق کال کښې په دکن کښې په یوه جګړه کښې شهید شوے دے".[9]

ډاکټر پروېز مهجور د مېرزا خان انصاري په دې دیوان کښې د دوي د ژوند حالات او په روښاني مسلک کښې د دوي مقام او د شاعرۍ خصوصیات ئې ښهٔ په تفصیل سره ذکر کړي دي. الف نامه ئې پکښې ډېر په اسان انداز لیکلې ده او دغه شان دا دیوان ئې د الفبتا په ترتیب سره تدوین کړو. د دې دیوان د تدوین انداز د دې نه وړاندې د مدونینو نه منفرد او غوره دے.

- د علي محمد مخلص دیوان:

علي محمد مخلص د روښاني دورې ډېر ښهٔ شاعر او د روښاني تصوف شارح دے. پښتو ادب کښې دوي ته ډېر لوے او اهم مقام حاصل دے. د دوي د کلام یوه قلمي نسخه د برټش میوزیم اثاثه ده او بله نسخه ئې د پېښور پوهنتون پښتو اکېډیمۍ په لائبریرۍ کښې خوندي ده. ډاکټر پروېز مهجور د علي محمد مخلص دیوان د پښتو اکېډیمۍ د نسخې نه ترتیب کړے دے. د دې دیوان سمونه او څېړنه ئې ډېر په ښهٔ شان او د زړهٔ د اخلاصه سر ته رسولے ده. په دې دیوان کښې هغوي د غزلونو ترتیب هم هغه ساتلے دے کوم چې قلمي دیوان کښې وو. دوي په خپله د دې دیوان په حقله لیکي.

> "تر کومه چې د دې نسخې د غزلو الفبا ئې ترتیب تعلق دے نو دا د مخکښې نه د روښاني الفبا سره سم په ترتیب د زړو نسخو د متنونو د سمون د قاعدې له مخه دغه سمون ما په خپل ځائے وساتلو.[10]

ډاکټر پروېز مهجور په دې دیوان کښې د علي محمد مخلص د پېدائش په حقله یو دلیل دا وړاندې کړې دے چې کله شاه جهان ۱۰۳۷ھ کښې د بادشاهۍ په تخت کښېناستو نو علي محمد مخلص د مرزا خان انصاري د مریدۍ نه رخصت واخستو نو په دغه حساب د علي محمد مخلص عمر په دغه وخت کښې اتلس یا نورلس کاله وهٔ.[11] د علي محمد مخلص د دې عمر اندازه د دې دلیل نه هم اخستې کېدے شي چې علي محمد مخلص د رخستېدو نه ورستو هم مرزا خان انصاري سره باقاعده خط و کتابت کولو.

د علي محمد مخلص شاعري په فکري حواله د روښاني تصوف او د هغې د باریکیو ترجمانه ده. بس د روښاني تصوف تشریح ئې ډېر په مدلل، اسان او ساده انداز کښې کړې ده. د دې نه علاوه علي محمد مخلص د پیر روښان "حالنامه" کښې هم اضافه کړې او سر دوباره ئې لیکلې دے. هغه د بایزید کلک ملګرې او پیروکار وهٔ او هم په دغه مکتب کښې یو لوړ مقام لري.

ډاکټر پرويز مهجور يو بهترين روښان شناس شخصيت وٸ او هغوي دا غوښتل چې د روښاني ادب سره ترلي شاعران مخې ته راولي. هغوي ځکه د پښتو اکېډيمۍ په مدد د دې ديوان تدوين هم کړے دے او دا ئې په پښتو ژبه او ادب لوے احسان دے. د پښتو ژبې ادب او تاريخ ئې په مضبوطو بنيادونو اودرولے دے.

- **روښاني تصوف :**

ډاکټر پرويز مهجور "روښاني تصوف" په څلورو بابونو کښې ليکلې دے. د دې کتاب په وړومبي باب کښې ئې په تصوف د قرآن او د حديث په رڼا کښې ښۀ تفصيل سره بحث کړې دے او د پښتونخوا تصوفي تاريخ ئې بيان کړې دے. دويم باب کښې ئې روښاني سلوک او مقامات بيان کړي دي. دريم باب کښې ئې د پير روښان د مسلک اهمې نقطې ښودلې دي. څلورم باب کښې ئې د خيرالبيان اسلوب تفصيلي ذکر کړي دي.

ډاکټر پرويز مهجور په "روښاني تصوف" کښې هر لحاظ سره د روښاني مسلک ښۀ عکاسي کوي، دوي د روښاني تصوف ټول بنيادي منابع څېړلي دي او مونږ ته ئې د روښاني تصوف اصل سر چينې راښکاره کړي دي چې د روښاني تصوف ډېر په غوره انداز سره درس ورکوي. دوي د روښاني تصوف څلور هغه مقامات ښودلي دي چې د بايزيد د روحاني لارې وجداني تخليق وړاندې کوي او د هغې سر چينه د پخواني تصوف نه شروع کېږي. عبدالکريم بريالے د "روښاني تصوف" په حقله ليکي.

> "ډاکټر مهجور خويشکي د روښاني تصوف بنيادي نکات د هغۀ د متن څخه راخستے او د تصوف د لوے بحر سره ګډ کړي دي چې بايزيد هم د دې بحر څخه د روښاني کچکول د نور په اوبو ډک کړے دے". [12]

ډاکټر پرويز مهجور روښاني تصوف په خپل علمي او روحاني تعبير د ادبياتو په اصل متن کښې وړاندې کړو او د دوي دا زيار د دوي د ټول ژوند اصل حقيقت دے. روښاني تصوف الله تعالیٰ سره د مينې افاقي پېغام وړاندې کوي ځکه چې د اسلام ټول توحيدي عناصر ئې د تصوف په اصل روح کښې بيان کړي دي او دا د پښتونخوا د تهذيب او تاريخ يو روښانه باب دے. روښاني تصوف کښې ډېرې باريکې د مذهبي عقيدې تصوفي نکتې مخې ته راځي چې لوستونکي ترې ډېره فائده موندے شي.

- **د واصل روښاني ديوان:**

د پير روښان د مکتب شاعرانو کښې چې د کومو اهمو شخصيتونو نامې اخستې شي نو په هغوي کښې يوه نامه د واصل روښاني هم وه. روښاني تحريک کښې د دوي شاعري په خصوصي توګه د يادولو جوګه ده. د دوي د شاعرۍ د پښتو ادب په کلاسيک شاعرانو کښې يو خپل منفرد مقام وۀ ځکه چې د دوي د شاعرۍ زياته برخه هم لکه د نورو روښاني شاعرانو تصوفي رنګ لري. دا ديوان هم ډاکټر پروېز مهجور د پښتو اکيډيمۍ بلوچستان کوټه له اړخه تدوين کړې دے.

د واصل روښاني د پېدائش او مرېنې په حقله څۀ واضحه، مستند او معتبر روايات نشته. خو بيا هم مونږ د داخلي او خارجي شهادتونو نه د واصل روښاني د پېدائش او مرګ نېټه معلومولې شو ځکه چې واصل روښاني د کتاب " دبستان مذاهب (فارسي) ليکونکي سره ملاقات کړے وۀ او دا کتاب د ۱۶۴۵ء (۱۰۵۵ ھ) نه واخله تر ۱۶۵۳ء (۱۰۶۳ھ) زمانې پورې ليکلے ګڼلې کېږي. عبدالرشيد رشاد د دې تاريخونو په اساس د واصل روښاني د پېدائش نېټه په خپل حساب د ۱۶۴۵ء نه نيم ژوند وړاندې او نيم ژوند ترې ورستو قياس کوي او دا ګڼي چې يقيني په دغه زمانه کښې دوي ژوند کړے دے۔[13]

د ډاکټر پروېز مهجور د متن څېړنې مطابق واصل روښاني پښتو ادب کښې په عامه توګه او روښاني ادب کښې په خصوصي توګه د يو حکيم او مفکر شاعر په حيث پېژندے شي. واصل روښاني خپل کلام ته هاتف اسماني خبرو سره تشبيه ورکړې ده او د خپلې شاعرۍ په دانش او حکمت باندې وياړ کوي.

ډ اکټر پروېز مهجور د واصل روښاني د ديوان په متن څېړنه کښې ډېر د ژورې مطالعې نه کار اخستې دے. دوي د واصل روښاني شاعرۍ کښې روښاني تحريک سره ذهني او فکري تړون لرلو نه علاوه بل اړخ ته د مغليه دور ظلمونه هم بيان کړي دي کوم چې د روښاني تحريک په مقابله کښې بيا څۀ موده ورستو راڅرګند شوي وو.

- **د شاد محمد خان ديوان :**

شاد محمد خان ضلع مردان کښې د سرفراز خان، عبدالرحمٰن او فتح خان پلار او د بېګم زري سرفراز او مير افضل خان نيکۀ وۀ. دوي د ضلع مردان يو نومورے خان، د پښتو ادب يو اهم شخصيت او درونډ پښتون وۀ. دوي په ټوله علاقه کښې د کثيرالمواهب، قدوةالخوانين العظام و ذوالاکرام او د رئيس مردان

په لقبونو يادېدۀ. په کال ۱۸۳۸ء کښې پېدا شوے او په کال ۱۹۰۱ء کښې د درې شپېتۀ (۶۳) کالو په عمر کښې وفات شوې وۀ.

د ډاکټر پروېز مهجور د تحقيق مطابق شاد محمد خان نوابی سره ښۀ د اعلي درجې شاعر، اديب او يو بهترين پوهه عالم وۀ. دوي د يو خان په حيثيت د ښکلي کردار، ښۀ اخلاقو، ژور علميت، درويشۍ او تقوٰي سره سره ډېر زيات با رعبه او اثرناک شخصيت وۀ. دوي په شريعت پابند او د جمله انسانيت رېښتونے خادم او عاشق وۀ. د دوي د علميت اندازه د دوي د مشهورو تصنيفاتو دبير دانش، معراج نامې او د مشهورو منظومو ترجمو نه معلومېږي او دا د دوي د علمي او ادبي زيار څرګند او غوره شهادتونه دي. ډاکټر پروېز مهجور د دوي د شاعرۍ په حقله ليکلي دي.

> "شاد محمد خان واقعي يو عاشق، مصلح او ذمه وار شاعر وۀ، يوخوا که رښتني مينې هغوي ته د انسانيت رازونه څرګندول نو بل خوا د مذهب عالمګيرې فلسفې د هغوي په شاعرۍ کښې انساني قدرونه زېږول. د هغوي مذهبي او اخلاقي شاعري د هغوي په انساني ښېګړو او د اخلاقي اصلاح په مشن ښکاره دلالت کوي". [14]

ډاکټر پرويز مهجور خپل علميت، سپېڅلې جذبې او ډېر محنت سره د شاد محمد خان د ديوان تدوين، تحقيق، سمونه او څېړنه اوکړه. دوي دې ديوان ته د الفبائې ترتيب ورکړو. د ډاکټر پروېز مهجور د متن څېړنې په لړ کښې د شاد محمد خان شاعرۍ کښې پوخ عوامي او نيم روايتي رنګ ښکاري. د دوي شاعري د واقعاتو او حالاتو يو ښکلې نمونه وړاندې کوي او د استعارو، کنايو او تخيل په لحاظ ښۀ شانداره او کافي ذرخېزه ده. د دوي د شاعرۍ ژبه که په لفظي او معنوي انداز ده خو عام اولس پرې په اسانۍ سره پوهېږي. د شاعرۍ اندز ئې ساده او دومره اسان دے چې په لوستو کښې څۀ خنډان او مشکلات نۀ پېدا کوي.

- **پښتو ژبه (دوه جلده):**

دا د پښتو ژبې ډکشنري ډاکټر عظيم خيال بخاري لس جلده پورې اوليکله چې دغه دوران کښې هغه وفات شو نو باقي دوه جلده يعني يولسم او دولسم جلدونه ئې ډاکټر پرويز مهجور د خپل ژور فکر او علم په رڼا کښې تاليف، تحقيق او ترتيب کړۀ. اوس د دې ډکشنرۍ ټول جلدونه پنځلس دي او د پښتو

اکېډيمۍ پېښور له اړخه چاپ شوې ده. راتلونکي وخت کښې به دا ډکشنري لوستونکيو او ليکونکيو ته ډېر مدد ورکړي.

د ډاکټر پرويز مهجور د تحقيق په لړ کښې د دې ډکشنرۍ په يولسم جلد کښې ش، ښ، ص، ض، ط او ظ ټکي شامل شوي دي. د ترتيب په لحاظ داسې پکار وه چې دې مذکوره تورو سره د س تورې يعني س، ش، ښ او ورپسې ط، ظ ليکلي شوي وو. ځکه چې د نورو ژبو په شان پښتو ژبه کښې هم د الفبا د توريو خپلې خپلې روايتي جوړې ترتيب شوي دي. ژبو کښې د دې ترتيب په وجه د لغت په هر جلد کښې د جوړه توريو راوېستل زياته اساني پېدا کوي.

د ډاکټر پرويز مهجور د څېړنې په نتيجه کښې په پښتو لغت کښې يوائې د " س " د توري د لفظونو دومره زيات شمېر راغلي دے چې يو جلد ترې ځان له جوړ شوې دے. د دې نه وړاندې لسم جلد کښې " س " شامل شوې وۀ خو ډاکټر پرويز مهجور پکښې نوره هم زياته اضافه اوکړه او هغه توکي چې د "س" پټۍ نه پاتې شوي وو هغه ئې هم په دغه جلد کښې شامل کړۀ.[15]

ډاکټر پرويز مهجور د دې ډکشنرۍ په دولسم جلد کښې د ع، غ، ف او ق توريو لفظونه هم شامل کړي دي. بس د لغت دا عظيمه کارنامه دوي ډېر په غوره انداز سره د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ له اړخه د يوې تحقيقي منصوبې په حيث تر سره کړه. دغه شان ډاکټر پرويز مهجور ډېر د ايمانداري، خلوص، فرض شناسۍ او سنجيدګۍ احساس سره دا دولسم جلد هم اختتام ته ورسؤلو او پښتو ژبې او ادب ته ئې يو بله ګټه وره برخه وسپارله.

- **رحمان بابا فن اور شخصيت** :

ډاکټر پرويز مهجور دا کتاب "رحمان بابا فن اور شخصيت" په اردو ژبه کښې يو معلوماتي کتاب ليکلې دے. دوي دا کتاب په پنځو بابونو کښې ليکلے دے او په وړومبي باب کښې ئې د رحمان بابا د پېدائش په حقله ښۀ مدلل بحث کړې دے. دوي په دې کتاب کښې د رحمان بابا په صوفيانه، مجذوبيت او اويسي طريقه باندې ښۀ تفصيلي ليکل کړي دي. دوي په دې کتاب کښې د رحمان بابا د شاعرۍ فني او فکري اړخونه اردو کښې ترجمه کړي دي. دا کتاب په کال ۲۰۰۷ء کښې د اکادمي ادبيات اسلام اباد له اړخه چاپ شوې وۀ.

د ډاکټر پروېز مهجور د تحقیقي او ادبي زیار په رڼا کښې رحمان بابا د پښتو ادب هغه عظیم شخصیت وۀ چې د پښتونخوا د سیمې صوفیان، عالمان او لوے وړۀ ئې ډېر زیات خوښوي او د دوي نامه ډېره په عزت او احترام اخلي ـ د رحمان بابا د مقبولیت اصل وجه د دوي په شاعرۍ کښې پاځۀ صوفیانه افکار دي ـ

رحما بابا په کال ۱۰۴۲ هجرۍ کښې د پېښور په علاقه بهادر کلي کښې پېدا شوې دے او د "پټې خزانې" مطابق د دوي د مړینې نېټه ۱۱۱۸ھ (۷ – ۱۷۰۶ء) ښودلې شوې ده ـ د پلار نوم ئې عبد الستار وۀ او په قوم موموند وۀ ـ د رحمان بابا مقام له ډېرو نه زیات اوچت او افضل وۀ ـ دوي که هر څومره خاص قبیلې یا خاص ټبر ته منسوب شي خو د یو عظیم شخصیت مالک وۀ او رحمان بابا که د ټولو انسانانو دپاره وۀ خو بیا په خاص توګه د ټولو پښتنو بابا وۀ"ـ [16]

د رحما بابا د غزل ژبه ډېره اسانه، ساده او روانه ده ځکه چې دوي په شاعرۍ کښې خپل پاکیزه خیالات په ښۀ شان سره بیان کړي دي ـ د دوي کلام د حقیقي مینې، بې تکلفۍ او سادګۍ یو بهترینه نمونه وړاندې کوي ـ د دوي کلام داسې د نصیحت او اصلاح نه ډک دے چې د پوهانو نه علاوه عام اولس ئې هم په اسانۍ سره لولي او اثر ترې اخلي ـ داور خان داؤد د دوي د کلام په حقله لیکي ـ

> "دا حقیقت دے چې رحمان بابا د امن پیامبر او او رهبر او د مینې انځور ګر او نغمه ګر دے ـ ځکه هغه په خپل ژوند کښې هم یو امن پسنده او مینه ناکه انسان وۀ او ټول عمر د امن او د مینې علمبردار او پرستار وۀ"ـ [17]

د ډاکټر پروېز مهجور ادبي هڅو نه معلومېږي چې د رحمان بابا شاعري یو خاص روش او ځان له طرز لري ـ د دوي په کلام کښې د ښۀ اخلاقو داسې زبردست درس موجود دے چې په دغه فني افکارو کښې غوره مرشد او لوے استاذ ګڼلے کېږي ـ د شعر ژبه ئې داسې شانداره،عظیمه او عجیبه ده چې خوږ زړۀ ته ټکور او تسکین ورکوي ـ د دوي شاعري په جمله شاعرانو کښې د دوي انفرادیت او غوره والې په ګوته کوي ـ

- گھریلو صنعتیں:

ډاکټر پرویز مهجور دا کتاب هم په اردو ژبه کښې تصنیف کړې دے او په دې کتاب کښې دوي د بعضو کلو د مختلفو مصنوعاتو نه جوړ شوي څیزونه متعارف کړي دي ـ د دوي په کورنو کښې دننه چې

کوم څېزونه زنانه په کوتو جوړوي د هغې طريقه د کال امدن ئې ښودلې دے۔ لويو کارخانو کښې ئې د مزدرانو تعداد او د هغې د مشنرۍ په حقله ئې مختصر ليکل کړي دي۔ ډاکټر پرويز مهجور د ضلع چارسدې د کليو "متهه"، "رځړې" او د ضلع سوات د کلي "اسلام پور" د څادرونو مصنوعات ذکر کړي دي۔ په دې کليو کښې تقريباً په لکونو کورونه دې وړو وړو کارخانو سره تړلي دي۔ اکثر زنانه په خلپو کورونو کښې د لرګي د پائې په ذريعه د وړۍ د تارونو نه څادرونه جوړوي او بيا ورته زونډې کوي۔ دا څادرونه د خپل ملک نه علاوه افغانستان او تاجکستان ته د خرڅ دپاره لېږلې کېږي۔ د دې څادرو دپاره خام مال د چين او اسټريليا نه راغوښتې شي۔ ډاکټر پرويز مهجور د دې خلقو د دې کاروبار په حواله خپل تاثرات داسې بيان کړي دي۔

”يہاں فنی صلاحيت و قابليت بہت زيادہ ہے لہٰذا اس انڈسٹری کے حوالے سے ان کاريگروں اور ان کی عورتوں اور بچوں کو ايجوکيٹ (Educate) کرنے کيلئے ايک انسٹی ٹيوٹ (Institute) کی بھی سخت ضرورت ہے“۔[18]

ترجمه: دلته فني صلاحيت او قابليت ډېر زيات دے د دې وجې د دې کارخانو په حواله دې هنرمندو او د دوي ښځو او بچو ته تعليم ورکولو دپاره د يو ادارې هم سخت ضرورت دے۔

ډاکټر پرويز مهجور په دې کتاب کښې د خاورو نه مختلف قسمه لوښو جوړولو ذکر کړې دے۔ دوي د ضلع پېښور د کلي "سوړېزو"، د ضلع نوښار د کلي "پبو" او د ضلع ډېره اسماعيل خان څۀ خاندانونه د دې فن هنرمند ښودلي دي چې په پښتو ژبه کښې ورته "کلال" وائي۔ دوي په دې کتاب کښې د ضلع کوهاټ او ضلع هنګو د مېزرو نه بوټ، پوزکي او د کټ لنګې جوړېدل ذکر کړي دي۔ دوي په دې کتاب کښې د ضلع مردان په جهنډۍ کلي کښې د دروزې نه جوړ شوي شکرونه، چجونه او داسې نور څېزونه جوړول هم بيان کړي دي۔

- بچوں کے روايتی گيت:

ډاکټر پرويز مهجور دا کتاب په اردو ژبه کښې تصنيف کړې دے او په دې کښې ئې د ماشومانو قيصې د پښتو نه په اردو ژبه کښې ترجمه کړي دي۔ دوي دا ټولې قيصې په پښتو ژبه کښې نظميه انداز سره يعني د سندرو په شکل کښې بيان کړي دي او په اردو ژبه کښې ئې بيا د هغې اسانه تشريح هم بيان

کړې ده چې ټول لوستونکې پرې ښۀ په اسانۍ سره پوهېږي. د دې کتاب یو څو مصرعې څۀ په دې ډول لاندې بیان شوي دي.

نرے نرے باران دے

بابا مې د میرې نه راروان دے

پشو ته وایم پشې

مېګیه سترے مۀ شې [19]

ډاکټر پرویز مهجور په دې کتاب کښې سندرې د دوه مصرعو نه واخله تر دولسو مصرعو پورې او بعضې خو ئې پکښې د دې نه هم زیاتې مصرعې لرونکې سندرې هم بیان کړې دي. د نن دور ماشوان چې د جدید دور څیزونه لکه ټیلي وژن، کمپیوټر، لیپ ټاپ، موبائل او نور نوي سهولتونه ورته موجود دي چې انسان ئې بالکل یواځې خوښ کړو. ډاکټر پرویز مهجور په دې کتاب کښې د ماشومانو د دې سرګرمیو په حقله لیکلي دي.

''جہاں تک بچوں کے گیتوں کی ساخت کا تعلق ہے تو وہ ایک ہی ساخت کے نہیں ہوتے اور نہ ان ساختوں کو ہم کوئی نام دے سکتے ہیں۔ ان میں دو دو مصرعوں، اور اس سے بڑھ کر دس، بارہ اور اس سے بھی زیادہ مصرعوں پر مشتمل مختلف ساخت کے گیت ملتے ہیں''۔ [20]

ترجمه: ترکومه چې د ماشومانو د سندرو د جوړښت تعلق دے نو هغه په یو شکل نۀ وي او نۀ د دې هیئت ته مونږ څۀ نوم ورکولے شو. په دې کښې د دوو دوو مصرعو، او د دې نه زیاتې لس، دولسو او د دې نه هم په زیاتو مصرعو باندې مشتمل مختلف شکل سندرې ملاوېږي.

د فرصت نۀ ملاوېدو له کبله دې قسمه عاضي خوشحالۍ او د ذهني سکون نه بې خبره پاتې شوي دي. ډاکټر پرویز مهجور د دې وجې دا د تېرې شوې زمانې یوه قیمتي ثقافتي اثاثه ګڼي او د خپل تحقیقي علم په ذریعه ئې کتابي شکل کښې محفوظ ساتلې دي.

- **ادبي څېړې:**

تذکره د عربۍ ژبې لفظ دے چې معنې ئې ذکر کول، یادول، دستاوېز او یاداشت دي. د اردو او فارسۍ په لغتونو کښې هم د تذکرې نورې ګڼ شمېر معنې بیان شوي دي. یو داسې کتاب چې په هغې

کښې د شاعرانو د ژوند حالات او د کلام نمونه ليکلې شوې وي. د لغت په اصطلاح کښې د شاعرانو د ژوند حالات او د هغوي د کلام متعلق کتاب ته تذکره وئيلے شي. خو کله چې د شعر و ادب ليکل د سياق و سباق د استعمال نه بغير وشي نو بيا دا د شاعرانو تذکره نۀ ده بلکې دا د صوفياؤ، علماؤ، فضلاؤ، اولياؤ، طبيبانو او د حاکمانو تذکره ګڼلے کېږي.

ادبي څهرې د ډاکټر پروېز مهجور د تذکره نګارۍ يو باقاعده کتاب دے. دا کتاب د خويشکو د شاعرانو يو تعارفي کتاب دے چې په دې کښې د ټولنې د غړيو مختصر شخصي او فني پېژندګلو شوې ده. دوي په دې کتاب کښې د هر شاعر د تعارف په لړ کښې ورمبے درې څلور کرښې پېژندګلو ليکلې ده او بيا ئې ورپسې د هغۀ د کلام نه دوه يا درې غزلې يا نظمونه ليکلي دي. همايون همدرد چې په هغه وخت کښې لا وړوکې وۀ نو د هغوي په حقله ئې صرف خپله يو مختصر تبصره ليکلے ده. ډاکټر پروېز مهجور د دې کتاب په حقله ليکي.

"اګر چې دا قسم مجموعې او تعارفي کتابونه د پښتو ادب او ژبې د ترقۍ په موجوده زغل کښې زما په خيال څۀ خاص ادبي پېش رفت نۀ لري خو بيا هم د پښتو په کتابونو کښې يوه اضافه ضرور ده او د ملګرو د تخليقي ذوق او جذبې دپاره شايد چې يو محرک اوګرځي". [21]

ډاکټر پروېز مهجور چې په دې کتاب کښې د کومو شاعرانو ذکر کړې دے په هغوي کښې ګوهر علي ګوهر خويشکي، فرهاد غالب ترين خويشکي، پرېز مهجور خويشکي، ولي خان خاکسار، محمد عبدالله قانت، مولانا سيد محمود صادق، سيد عبدالجميل جميل، همايون همدرد او داسې نور ګڼ شمېر شاعران دي. دا کتاب ۱۶۷ صفحې لري او د ارزاني پښتو ادبي ټولنه خويشکي له اړخه چاپ شوې دے.

- **متفرقات**:

ډاکټر پرويز مهجور د اوچتې پائې شاعر هم وۀ او د دوي د زوي انس مهجور د وېنا مطابق کم وبېش سل غزلې په قلمي حالت کښې موجود دي خو لا تر اوسه چاچ شوې نۀ دي. د دوي د شاعرۍ يو منفرد انداز وۀ چې د هغوي د علمي فراختيا يو غوره ثبوت دے. د دوي په شاعرۍ کښې ټول فني لوازمات او محاسن موجود دي کوم چې د دوي د شاعري خاصه ده. دوي د شاعرۍ ټول خصوصيات په خپله لمن کښې راغونډ کړي دي. شاعري ئې د صداقت نه ډکه ده او په کلام کښې ئې لکه د سپرلي د ونوبوټو په هر ښاخ کښې

نوې او ښائسته رنګونه او ښکلا ښکاري۔ د دوي کلام په انسان کښې د احساساتو او جذباتو يو نوې سوچ او فکر پېدا کوي۔

ډاکټر پروېز مهجور په ګڼو قومي او بېن الاقوامي سېمينارونو کښې شرکت کړې وۀ۔ دوي په قومي سطح پېښور يونيورسټي پېښور، پنجاب يونيورسټي لاهور، علامه اقبال اوپن يونيورسټي اسلام اباد، باړه ګلي ايبټ اباد او د ملک په نورو برخو کښې ئې د پښتو ادب متعلق خپلې مختلف مقالې وړاندې کړې دي۔ بين الاقوامي سېمېنارونو کښې دوي څلور ځله افغانستان کښې د عبدالسلام اشېزي، اجمل خټک، بايزيد روښان، مرزا خان انصاري په حقله او يو ځل ئې د انډيا په جې پور ښار کښې انټرنېشنل سوفي ازم فسټېول کښې ګډون کړې وۀ۔

ډاکټر پروېز مهجور درې دېرش (۳۳) د پښتو ادب په حقله مختلفې تحقيقي مقالې ليکلې دي۔ د شپوړو مصنفينو په کتابونو ئې نظر ثاني کړې ده او په ګڼ شمېر کتابونو ئې سريزې ليکلې دي۔ بې شمېره نامور شاګردان ئې پېدا کړي دي او په خصوصي توګه ئې د پېښور يونيورسټۍ، بلوچستان يونيورسټۍ او د علامه اقبال يونيورسټۍ د پښتو څنګو د ګڼو سکالرانو نګراني کړې ده۔ د دنيا مختلفو ټي وي او ريډيو چېنلو ته ئې د پښتو ادب په اړه ګڼ شمېر انټرويوګانې ورکړې دي۔ مختصر دا چې ډاکټر پروېز مهجور د ژوند زياته برخه د قام او وطن د ګلالو او د پېغلو د روښانه مستقبل دپاره وقف کړې وه او د خپل قلم په ذريعه ئې هره خبره د غوره دليل نه ثابته کړے ده۔

- **مړينه:**

د دنيا دا مشهور ليکوال، لوئے عالم، صوفي، دانشور، شاعر، محقق، مدون، مترجم، تقوٰي دار، په اسلام مئين او بزرګ شخصيت ډاکټر پروېز مهجور په شپږم ستمبر ۲۰۲۰ء کښې په حق ورسېدو او د خپل کلي په لويه مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شو په ګور ئې نور شه۔

☆☆☆

## *REFERENCES*


1. *Khuram, yaseen Muhammad, Urdu may Tadween e Mathan ke Revayath, Lahore, Edara Islamiyat 190, Anar kali, 1991, P. 224*
2. *Arman, Shahab Aziz, Ameel, Dree myashtenay, Pekhawar, Qalam Pukhto Adabe Jarga Malazi, July, December, 2016, P. 44*
3. *Faqir, Faqir Muhammad, Bayazid da Pakhto Awalane sahib e kitab shayer, Mashmula Pakhto, Pekhawar, Academy Pekhawar University, January, June, 2019, P. 201*
4. *Mahjoor, Perez, Doctor, Professor, Da Arzani Kheshgi Kulyat, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, June, 2005, P. 14*
5. *Hewad Mul, Zalmay, Pa Hind Key da Pakhto jabi aw Adabyato da Ijad aw Wadi Pravoona, Dreem chaap, Lahore, Sherkat prenting press, 1373 Hejri, P. 110*
6. *Da Arzani Kheshgi Kulyat, P. 57*
7. *Mahjoor, Perez, Doctor, Professor, Da Merza Khan Ansari Dewan, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, 25 November, 2005, P. 1*
8. *Akbar, Muhammad Akbar Khan, Rukhanyan da Mugalo Tarikyan, Pekhawar,University Book Agency, Kaal na lari, P. 301*
9. *Doost, Seran Mul, Da Merza Khan Ansari Dewan, Pakhto tolana, Dawlati Mathba, Kabul, Afghanistan, 1354 Hejri, P. 6*
10. *Mahjoor, Perez, Doctor, Professor, Da Ali Muhammad Mukhlis Dewan, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, Kaal na lari, P. 14*
11. *Hum Daga kitab, P. 28*
12. *Mahjoor, Perez, Doctor, Professor, Rukhani Thasawaf, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, 2016, P. AA*
13. *Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, Da Wasal Rukhani Dewan, Kutta, Pakhto Academy Balochistan, October, 2020, P. 8*
14. *Mahjoor, Perez, Doctor, Professor, Da Shad Muhammad Khan Dewan, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, 1987, P. 71*
15. *Mahjoor, Perez, Doctor, Professor, Pakhto Jaba, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, 1995, P. 1*
16. *Benawa, Abdur Raouf, Da Rahman Baba Dewan, Pakhto tolana, Dawlati Mathba, Kabul, Afghanistan, 1947, P. 2*
17. *Dawood, Dawer Khan, Rahman Pohana, Pekhawar, Rahman Adabi Jarga, 2012, P. 19*
18. *Mahjoor, Perez, Doctor, Garalo Sanathe, Peshawar. Pashto Academy Peshawar University, January, 2008, P. 2*
19. *Mahjoor, Perez, Doctor, Bacho kay Rewayathe Geeth, Peshawar, Pashto Academy Peshawar University, January, 2008, P. 13*
20. *Hum Daga kitab, P. 6*
21. *Kheshgi, Pevez Majoor, Adabi Sehrey, Nowkhar, Arzani Adabi Tolana Kheshgi, Da chaap kaal na lari, P. 5*